کابل ښار کې د ننني ځانمرګي برید د غندلو په اړه
د افغانستان د بشري حقونو د خپلواك كمېسيون مطبوعاتي
اعلاميه

**دافغانستان د بشري حقونو خپلوك كمېسيون د نن ورځي ځانمرګی برید په کلکه غندي، او ددغې پېښې له امله چې کومو بې دفاع ملکي کسانو ته زيان اوښتی د هغو کورنیو ته د زړه له کومې تسليت وايي. همدارنګه کمېسيون په ناپوځي سيمو باندي هر ډول برید چې تر ډېره دملکي کسانو دمرګ ژوبلې لامل کېږي د مخنيوی غوښتونکی دی.**

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون يو ځل بيا ددغې پېښې دغندلو ترڅنګ ددغه شان ناانساني او نااسلامي عمل له امله ددغې پېښې عاملان محکوموي او يو ځل بيا د دولت له مخالفو وسله والو ډلو غواړي چې خپل دا ډول بریدونه دي ودروي. همدارنګه کمېسيون د افغانستان پر دولت اوملکرو ملتونو غږ کوي چې ددغه ډول پېښو دعاملانو په پيژندلو او دهغو په محاکمه کولو کې دي ګوټلي ګامونه ه واخلي.**

**دافغانستان د بشري حقونو خپلوا کمېسيون**

**کابل 1389/10/22**